TwinRivers
UNIFIED SCHOOL DISTRICT

د مینځني ښوونځي او د لیسې محترم والدین/سرپرستانو:

د کالیفورنیا د سالم ځوانانو قانون له مخې اړین دي چې لېترلږه یوځل په مینځني ښوونځي کې او یوځل په لیسه کې زده کونکو ته د جنسي روغتیا جامع ښوونه او د انساني معافیت د ضعف ویروس (HIV) د مخنیوي ښوونه تدریس شي، چې د اوم ټولګي څخه باید پیل شي. ښوونه او مواد باید له طبي پلوه صحیح، هدفي، عمر سره مناسب او د ټولو زده کونکو پشمول وي، لکه څنګه چې په قانون کې تعریف شوي دي. قانون وایی چې دا ښوونه او مواد باید زده کونکي وهڅوي چې د والدین، سرپرستانو یا نورو د ډاډ وړ لویانو سره د انسان جنسي لیوالتیاو په اړه وغږیږي.

د دې ښوونې موخه ده:

- زده کونکو ته لازمي پوهه او مهارتونه ورکول چې خپله جنسي او د بیاتولید روغتیا د HIV او د نورو له جنسي لارې لیږدیدونکي عفونیتونو او د ناغوښتل شوي بلاربتوب څخه محافظت کړي.
- زده کونکو ته د اړتیا وړ پوهه او مهارتونه ورکړي چې هغوی ورته د تنکي ځوانانو د ودې او پراختیا، د بدن انځور، جنډر، جنسي لاربښود، اړیکو، واده، او کورنۍ په تړاو د سالم چلند خپلولو لپاره اړتیا لري.
- جنسي لیوالتیا د انساني ودې د نورمهال برخې په توګه وګڼي.
- ډاډ ورلاندې کړي چې زده کونکي جامع، هراړخیز، صحیح، او بې پرې جنسي روغتیا او د HIV د مخنیوي ښوونه لاسته راوړي او د دې هدف بشپړولو لپاره ښوونکو ته واضح وسیلې او لاربښود برابر کړي.
- زده کونکو ته د سالم، مثبت، او خوندي اړیکو او چلند درلودو لپاره لازمي پوهه او مهارتونه ورکړي.

ښوونه باید زده کونکي وهڅوي چې د جنسیت او جنسي لیوالتیا په اړه د والدین، سرپرستانو یا نورو د باور وړ لویانو سره وغږیږي. ښوونه باید له طبي پلوه صحیح، عمر سره مناسب او د ټولو زده کونکو پشمول وي. پدې کې باید دا لاندې موارد شامل وي:

- د HIV او د نورو جنسي لارې لیږدیدونکي عفونیتونو (STIs) په اړه معلومات، پشمول د انتقال، د HIV او د STIs مخنیوي او د درملنې لپاره د FDA تصدیب شوي میتودونه
- پدې اړه معلومات چې پرهیز یا ډډه کول د ناغوښتلي بلاربیدو او HIV او نورو STIs د مخنیوي لپاره یوازینۍ قطعي لاره ده، او د جنسي فعالیت د ځنډولو د ارزښت په اړه معلومات
- د HIV او د ایډز (AIDS) د ټولنیز لیدلوري په تړاو غږیدل
- د جنسي او بیاتولید روغتیا پاملرنې لپاره سرچینو ته د لاسرسي په اړه معلومات
- د بلاربتوب په اړه معلومات، پشمول د FDA لخوا تصویب شوي مخنیوي میتودونه، د بلاربیدو پایلې، د زیږون نه مخکې پاملرنه، او د نوي زیږیدلي ماشوم د خوندي تسلیمۍ قانون
- د جنسي لاربښود او جنډر په اړه معلومات، پشمول د جنډر منفي بیلګه ای تصور زیان
- د سالم اړیکو په اړه او د ناسالم چلند او حالتونو په اړه معلومات

والدین او سرپرستان فرصت لري د جنسي روغتیا او د HIV د مخنیوي جامع ښوونې لپاره کارول کیدونکي موادو بیاکتنه وکړي. همدارنګه د بورډ پالیسي 6142.1، د ښوونې کوډ 51938 او 51934 برخو، او د کالیفورنیا د سالم ځوانانو قانون 5 او 6 څپرکي کاپي ترلاسه کولو لپاره د ولسوالۍ دفتر څخه غوښتنه کولی شئ. که تاسې کومې پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ د 7ام ټولګي لپاره د خپل ماشوم د ژوند ساینس ښوونکي، د لیسې لپاره د روغتیا ساینس ښوونکي یا د لیسې مدیر سره اړیکه ونیسئ.

په 7ام ټولګي کې، د ژوند ساینس ښوونکی د بورډ لخوا تصویب شوي د مثبت مخنیوي نصاب په کارولو سره تدریس کوي. په لیسه کې، د روغتیا ساینس ښوونکی دا تدریس کوي. د ایالت قانون تاسې ته اجازه درکوي چې خپل ماشوم د دې تدریس له یوې برخې یا له ټول تدریس څخه وباسئ.
مهرباني وکړئ یادداشت کړئ: زده کونکي د تدریس، موادو، پرزینټیشن یا پروګرام څخه نشي معاف کیدی چې د جنډر، جنډر شناخت، جنډر څرګندولو، جنسي لیدلورې، تبعیض، ځورونې، ازارولو، ویرولو، اړیکو یا د کورنۍ په اړه بحث کوي، او د انساني بیاتولید غړو یا تناسلي آلو او د هغوی د فعالیت په اړه بحث نه کوي. **که تاسې نه غواړئ چې ستاسې زده کونکی د جنسي روغتیا او د HIV د مخنیوي جامع تعلیم کې ګډون وکړي، نو مهرباني وکړئ تر ________ پورې د خپل زده کونکي د روغتیا ساینس ښوونکي یا د ښوونځي مدیر ته لیکلې غوښتنه وسپارئ.**

په درنښت،

کیرستي شرویډر
د نصاب او تدریس او د مسلکي پراختیا رییس

**د معتمدینو هییت**

*میشل ریواس*
*رییس*

*لینډا فاولر، جی.ډي*
*د رییس معاون*

*میکایل باکر*
*غړی*

*باب بستیان*
*غړی*

*باسم ایلکارا*
*غړی*

*رامونا لانډیروس*
*غړی*

*ریبیکا سانډوال*
*غړی*

**مشر**
*ستیون مارټینیز، Ed. D.*

*هره ورځ د فوق العاده لاسته راوړنې لپاره د هر زده کونکي هڅول*

فزیکي پته: 5115 Dudley Blvd. ◆ McClellan, CA 95652
د لیک لیږلو پته: 3222 Winona Way ◆ North Highlands, CA 95660
www.twinriversusd.org ◆ (916) 566-1600 ◆ فکس (916) 566-1784